# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد     بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم     از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com     afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
|---|---|


ژباړه: فرهاد وياړ
۲۹ جولای ۲۰۱۴

**حقيقت له مونږ سره دی، بريالي به شوو**

**د ترکيي د يوروم انقلابی ډلې يوه ترانه**

## يو قهريدلي ځوان

زمونږ په لاسونو کې د ډبرو لپاره

نښه مالومه کړه

او مبارزه يې رازده کړه

زمونږ مبارزه، هغه مبارزه چې پر اوږو مو وده کوي،

وده کوي،

هغه مبارزه يې رازده کړه

چې پر اوږو مو وده کوي.

پر تندي يې د مردکي تپ

لمبه و هونکی اور دی

زمونږ  بی امانه مبارزه پياوړي کيږي

پياوړي کيږي او د ولسونو زړونه په خپلې غيرې کې رانيسي،

په خپلې غيرې کې رانيسي.

زمونږ بی امانه مبارزه پياوړي کيږي

پياوړي کيږي او د ولسونو زړونه په خپلې غيرې کې رانيسي،

په خپلې غيرې کې رانيسي.

له هرې بريا سره

د غږ انګازې يې پورته کوو

تاريخ په خپلو وينو ليکو

حقيقت له مونږ سره دی، بريالي به شوو
حقيقت له مونږ سره دی، بريالي به شوو
تاريخ په خپلو وينو ليکو
حقيقت له مونږ سره دی، بريالي به شوو.

له مبارزې سره، له ليوالتيا سره ـ
به هغه ستري ورځې ته ورسيږو
چې زمونږ ټوپکونه به وروستی فرياد پورته کړي:
حقيقت له مونږ سره دی، بريالي به شوو
زمونږ ټوپکونه به وروستی فرياد پورته کړي:
حقيقت له مونږ سره دی، بريالي به شوو.